# امیرِ اهلسنت نه د آسان واده

# په باره کښې سوال جواب

پښتو




پیشکش:

مجلس المدینة العلمیه (دعوت اسلامی)

ژرجمو:

ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

دا رساله د امیرِ اهلِسنت نه د شوو سوالونو او د هغې په جوابونو باندې مشتمله ده.

# دامیرِ اهلسنت نه د آسان وادهٔ په باره کښې سوال جواب

دُعائے جانشین امیر اهل سنت: یاربَّ المُصطفٰي ! څوک چې هُم دا رساله "امیر اهلِ سنت نه د آسان وادهٔ په باره کښې سوال جواب" اولولي یا ئې واوري، هغه ته د نکاح سُنَّت د شریعت مطابق د ادا کولو او د غیر شرعي رسمونو او رواجونو نه د بچ کیدلو او د خپل آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سنتو باندې د عمل کولو توفیق ورکړې. اٰمِین بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

منقول دي دي: چې یو کس د مرګ نه پس چا په خوب کښې اولیدو چې د مجوسیانو ټوپۍ ئې په سر کړې ده نو د دې د سبب تپوس ئې ترینه اوکړو، هغه جواب ورکړو: کله به چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مبارک راتللو ما به درود شریف نه لوَستلو د دې ګناه د سپیره والي په وجه زما نه معرفت او ایمان سلب کړے شو (یعني واخستلے شو). (سبع سنابل، ص35)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب صَلَّى اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د نکاح ګرانیدلو وجوهات

سوال: نن صبا نکاح ورځ تر ورځه ګرانیږي او په دې سلسله کښې نوې نوې غیر شرعي طریقې راوځي لِهذا تاسو ته دا ګزارش دے چې د دې په باره کښې رهنمائي اوفرمائې.

جواب: نکاح بالکل مفت [بے پیسو] وه خو اوس ګرانه شوې ده. یاد ساتئ! نکاح کښې یوه پیسه

هم واجب نه ده چې که پیسے نه وي نو ګڼي نکاح به هم نه کیږي. البته مهر واجب دے. (رد المحتار، 4/ 219)

او د دې کم از کم مقدار دوه تولے او اووه نیمي ماشے سپین زر دي. (بہار شریعت، 64/2، حصہ:7)
چې د دې قیمت د پاکستان د کرنسۍ په حساب سره د (28 نومبر 2019) مطابق تقریباً درې زره روپۍ (3000) جوړیږي نو داسې نکاح کول ګویا مفت ده. د وادهٔ د اولنۍ شپې په صبا ولیمه کول سنت دي. (بہارِ شریعت، 3 / 391، حصہ: 16) خو د دې د پاره د وادهٔ هال بُک کول ضروري نه دي. دغه شان د نکاح د پاره هم د وادهٔ هال بک کول ضروري نه دي.

## د امیرِ اهلِسنت نکاح او ولیمه

اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما نکاح په (میمن) جمات (بولټن مارکیټ) کښې شوې وه او زما په درخواست باندې مفتي اعظم پاکستان مفتي وقار الدین صاحب رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د نکاح تړلو د پاره تشریف راوړے وو. مونږ به د بلډنګ په دوئیم منزل کښې اوسیدلو خو د ښکته ګاونډي کور لوئ وو نو په هغې کښې زما ولیمه وه. ما د وادهٔ په موقع باندې خپل کور څه د ناوې په شان ښائسته کړے هم نه وو. شاید چې دوه درې ټیوب لائټونه مو لګولي وو او په ټیپ باندې مو نعتونه چلولي وو. د الله پاک په رحمت او کرم سره زمونږه په کور کښې د شروع نه د سندرو او سازونو تصور نشته. یاد ساتئ! په وادهٔ کښې اخستل ورکول او سرهٔ زر وغیره کوم چې معمولات وي ادا زما په وادهٔ کښې هم شوي وو او دا جائز هم دي. دغه شان د مهر کم از کم مقدار دوه تولے او ووه نیمي ماشے سپین زر دے او د زیات څه حد مقرر نه دے. لهٰذا که څوک هر څومره زیات مهر مقرر کړي جائز دے، خو مهر د درمیانه درجے پکار دے، چې بوج نه جوړیږي.

## بوډا پلار پکي ته زوړند مړ (عبرتناکه واقعه)

نن صبا خلق په ودونو کښې د کور وغیره مطالبے کولو باندې یو بل پریشانه کوي، تر دې

چې د دې په وجه بعضې وخت معامله خودکشئ ته هُم اورسي چنانچه ما په سوشل میډیا باندې یو پوسټ اوکتلو چې په هغې کښې یو بوډا سړے مړ په پکې پورې زوړند وو او ورسره لیکلي شوي وو چې دې بوډا سړي خپله لور وَدَوله خو د هلک کور والا د رخصتئ نه مخکښې قسماقسم مطالبے کولې چې دا څيز راله واخله هغه څيز راله واخله او دۀ په قرضونو اخستلو اخستلو د هغوئې مطالبے پوره کولې. د رخصتئ نه دوه ورځې مخکښې د وادهٔ هلک دا مطالبه اوکړه چې که زما د پاره فلانکے موټر اخلې نو زه به جنج درولَم ګنې نه ئې درولَم. نو دې عاجزه بوډا د لور سخرګنئ ته اووئیل چې ستاسو مطالبے پوره کولو پوره کولو کښې په ما باندې مخکښې ډیر قرض اوښتے دے. لِـهذا ما په نور مصیبت کښې مه اچوئ، خو د واده هلک په خپله مطالبه باندې کلک وو او د جنج وړل ئې منع کړل. آخر نتیجه دا راووَته چې هغه بوډا د ډیر خفګان نه خودکشي اوکړه.

## د وادهٔ د هلک د کور د کسانو مالي مطالبه کول رشوت دے

د وادهٔ د هلک د کورنئ د جینئ د کورنئ نه د مال مطالبه کول د رشوت یو صورت دے او دا حرام دے. که د جینئ پلار د خپل عزت بچ کولو د پاره او د خپلې لور د رخصت کولو د پاره مجبوراً هغه مطالبه پوره هم کړي خو غوښتونکے ګنهګار دے. (فتاویٰ رضویه، 12/ 257 ماخوذاً) زمونږ په دې معاشره کښې د هلک د کورنئ مطالبے کول عام شوي دي، کله د جینئ د کور نه د اے سي مطالبه کوي او کله د کور اخستلو، حالانکه د اوسیدلو د پاره د کور انتظام کول په هلک باندې واجب دي. (تنویر الابصار، 1 / 283-284 ملتقطاً) نن صبا د جینئ کورنئ مجبوراً د لکونو کوړونو مکانونه ورکوي، ښکاره خبره ده چې د جینکو ودونه کول دي او جینکئ ډیرې پیدا کیږي. زمونږ په کُتیانه میمن قوم کښې د هلک کورنئ د جینئ کورنئ نه د کور مطالبه نه کوي بلکه هلک پخپله د کور انتظام کوي خو یو میمن قوم داسې هم دے چې د جینئ کورنئ به مکان ورکوي. د داسې څیزونو په وجه سماجي ادارو والا هم پریشانه وي لکه څنګه چې اوس تیرو

ورځو کښې زما غریب خانے ته میمن ورورولئ سره تعلق ساتونکے د یو د لوئے سماجي ادارے عهده دار او د مختلفو میمنو وروولو لوئے لوئے مشرانو تشریف راوړے وو او هغوئي هم په دې باره کښې خپله پریشانه ښکاره کړه. ما لیدلي دي چې په ودونو کروړونه روپیٔ خرچ کړے شي او بیا یو څو ورځې پس طلاق اوشي او یا د ښځې خاوند یا د خواښې او اِنګور په خپل مینځ کښې کور جوړ نه شي او جینئ د مور کره لاړه شي. الله پاک دِ د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په امت باندې رحم اوفرمائي.

اٰمین بِجاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

(ملفوظاتِ امیراہلِ سنت،قسط:91)

سوال: ډیر خلق وائي چې غلطو رسمونو ودونه ډیر ګران کړي دي خو د دې رسمونو ختمولو د پاره هغوئي میدانِ عمل ته نه راځي تر دې پورې چې که په خپل خاندان کښې ئې د چا واده وي نو هغوئي هم په دې رسمونو کښې اخته وي، په دې باره کښې تاسو څه فرمائے؟

جواب: ډیر خلق دا غواړي لکه څنګه چې زه هُم دا غواړم او زه د مدني چینل په ذریعه په دې باره کښې بیا بیا عرض هم کووم خو که زما په خاندان کښې داسې اوشي نو زه څه کولے شم؟ ښکاره خبره ده چې د خاندان هر هر کس دِ خبره اومني دا ضروري نه ده. دغه شان د سماجي ادارو چې کوم لیډران دي په هغوئي کښې هُم بعضې واقعي [د داسې کارونو نه] پریشانه وي او هغوئي د خپل قوم درد هُم لري خو چې د هغوئي په خاندان کښې څه ښادي وي نو اکثر که هغوئي خفه کیږي او که په کور کښې ترینه هُم خفګان جوړیږي خو د هغوئي خبره نه منلے کیږي. یاد ساتئ! د ځلمي اولاد په وړاندې د سماجي ادارے یو بوډا بے وسه کس څه اوکړي؟ که د یو رَسم نه د منع کولو کوشش کوي نو هم دے به بدنامیږي، هم دغسې بعضې سماجي مشران ډیر درد لري خو د هغوئي بے وسو په کور کښې خبره نه منلے کیږي. که د یوے جینئ وادهٔ کول وي او سماجي مشر دا غواړي چې بالکل ساده اوشي نو د هلک کورنئ وائي چې دا رسم به هم کیږي او هغه رسم به هم کیږي نو اوس دا بے وسه څه اوکړي؟ که پیغله جینئ په

کور ناسته پاتې شي نو هُم ګناهونو دروازے برسیره کیدے شي او بیا به ډیرې خرابئ پیدا کیږي په دې وجه بے وسه سماجي رهنما که نه غواړي هُم نو په رسمونو کښې راګیر شي او بیا معاشره کښې د هغوئي بدنامي هم کیږي چې وائي یو څه او کوي بل څه. څوک چې د اصلاح خبرې کوي د هغوئي بےعزتي کول او په هغوئي باندې تنقید کول دا زړهٔ آزاروونکي طريقه ده. څوک چې د غلطو رسمونو ختمولو خبره کوي د هغوئي حوصله افزائي کول پکار دي او د هغوئي په باره کښې دا نیک ګمان پکار دے چې دا مسلمان دے لِهذا صرف په خُله نه بلکه د زړهٔ نه به ئې وائي. که سماجي رهنما د طلاق په باره کښې اووائي چې نن صبا طلاقونه ډیر کیږي داسې نه دي کول پکار نو که بیا د هغوئي په خاندان کښې د طلاق واقعه پیښه شي نو هغوئي ته بد وئیل نه دي پکار ځکه چې بعضې وخت داسې حالات پیدا شي چې کور هډو جوړیږې نه او طلاق ورکول ضروري شي نو د هغوئي په خاندان کښې هم طلاق کیدے شي.

(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:91)

سوال: د نکاح نه پس چې کله دعا غوښتلے کیږي نو لرې ناستو خلقو ته آواز نه رسي او کوم چې نزدے ناست وي هغوئي هم د شور په وجه آواز نه اوري خو ټولو لاسونه اوچت کړي وي په داسې موقع څه کول پکار دي آیا دعا غوښتل پکار دي یا خاموشه اوسیدل پکار دي؟

جواب: که څوک دعا غواړي نو د هغه دعا اوریدل واجب نه دي یواځې هم دعا غوښتلے شئ. د نکاح په تقریب کښې د هغوئي د پاره دعا کول پکار دي د چا چې نکاح کیږي چې الله پاک دِ د هغوئي دا واده بختور کړي او الله پاک دِ د هغوئي کور ښاد او آباد لري. د "شادي خانه آبادي" مطلب دا دے چې د هغوئي کور دِ آباد اوسي، د هغوئي په کور کښې دِ ورانے نه راځي، جنګ جګړو نه دِ په امان کښې اوسي، د خواښې او اِنګور تر مینځه جنګونه دې نه کیږي، کور دِ د اختلافاتو نه بچ اوسي، د طلاق نوبت دې نه پیښیږي بلکه د دې خلقو ژوند دِ تقوىٰ او پرهیزګارئ او د الله پاک او د هغه حبیب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په اطاعت کښې تیر شي. افسوس! دا

ځیزونه اوس مونږ کښې نشته. خبرې غتې غتې کوو خو عمل بالکل نشته، د کردار ډیر مسائل دي. د شادي خانه آبادي هم دا مطلب دے او څه چې د دې برخلاف وي هغه شادي خانه بربادي وي خو دا لفظ په عوامو کښې دومره مشهور نه دے. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:42)

## په کویژدن کښې پینځه منه متهائي راوړئ!

سوال: که د جینئ کورنئ د هلک کورنئ ته اووائي چې په "کویژدن کښې پینځه منه متهائي راوړئ" او د هلک کورنئ دومره وس نه لري نو څه اوکړي؟ (د SMS په ذریعه سوال)

جواب: بعضې بعضې ځایونو کښې داسې شته لکه میمن قوم کښې د جینئ کورنئ د خرچے د وجې نه په آزمائش کښې وي. بعضې ورورولو کښې د هلک کورنئ په آزمائش کښې وي. بهرحال متهائي نه پینځه منه غوښتل پکار دي او نه پینځه کلو ځکه چې راوړلو والا ئې د دې وجهې نه راوړي چې که ورئې نَوړي نو وادهٔ کښې به رکاوټ راشي یا به دا خلق زمونږ لور یا ځوئ ته تکلیف ورکوي یا د مخامخ کس د شر نه بچ کیدل مقصود وي چې د نه ورکولو په صورت کښې به هغوئې مونږ ته شُومان وائي، قسماقسم خبرې به کوي، دروغ رښتیا به یوځائے کړي او توقے به راپورې کوي. یاد ساتئ! د دې وجهې نه متهائي یا بل څیز ورکولو ته رشوت وائي. (فتاویٰ رضویه ، 12 / 257-258ملخصاً) او اغستونکے به ګنهګار وي، ولے چې ورکوونکے ئې د شر یا بدئ نه بچ کیدلو د پاره یا د خپل عزت د حفاظت د پاره ورکوي ځکه به په هغه باندې د ګنهګار حکم نه لګي. (فتاویٰ رضویه ، 17/ 300 ماخوذاً،ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:95)

## د وادهٔ په تقریب کښې د ناوخته کیدو وجه او د هغې حل

سوال: د وادهٔ کارډ باندې چې د روټئ کوم وخت لیکلے شوے وي د هغې وخت مطابق روټئ نه ورکولے کیږي آیا دا وخت لیکل به دروغو کښې شمیرلے کیږي؟

جواب: چې خلق نه وي راغلي نو روټئ چاله ورکړي؟ عام طور خلق په وخت نه راځي نو ځکه

روتېٔ ناوخته شي. د خلقو دا ذهن جوړ شوے دے چې که په کارډ کښې لس بجے ليکلي شوي دي نو د يوولسو نه مخکښې به نه شروع کيږي، لهٰذا که مونږ ليکلي شوي وخت باندې لاړ شو نو ډير وخته پورې به وادهٔ هال کښې نښتي ناست يُو نو اوس د خلقو دا عادت جوړ شوے دے او د دې اصلاح کول ډير ګران دي.

سماجي ادارو والا که د خپلې برادرۍ خلق پوهه کړي نو کيدے شي چې د دې څه حل راوځي ګني صرف په قانون پاس کولو هيڅ نه کيږي ځکه چې قانون به صرف اوليکلے شي او وروستو به ئې بيا پته هُم نه لګي چې قانون جوړ شوے هم دے او که نه؟ بلکه قانون جوړوونکي ئې هم هير کړي. بهتره دا ده چې يو مجلس د دې کار د پاره جوړ کړے شي او هغوئي د دې ټولو معاملاتو حل کولو کوشش اوکړي، د مثال په طور په دې مياشت کښې زمونږه قوم کښې درې ودونه دي نو دا مجلس دِ د هلک او جينۍ هر يو فريق کورنۍ سره رابطه اوکړي او ښه په مينه دِ ئې پوهه کړي او په دې خبره دِ ئې راضي کړي چې د وادهٔ هلک به دومره بجے راځي او د جينۍ کورنۍ دِ هم مجلس ته اووائي چې بےفکره شئ چې زمونږ روټۍ به د هلک والو د راتلو نه مخکښې په هال کښې موجوده وي او مونږ به په خلقو انتظار نه کوو. دغه شان که يو سماجي اداره رامخکښې شي نو بيا نورې ادارے چې هغوئي ته اوګوري نو هغوئي به هم داسې کوي او نظام کښې به څه نه څه بهتري راشي. صرف په خبرو کولو او په ډيرو ډيرو بحث و مباحثه کولو او فضولو همدردو ښکاره کولو هيڅ هم نه کيږي. (ملفوظاتِ اميرِاہلِ سنت،قسط:95)

سوال: زمونږ معاشره کښې دا رواج هم دے چې حج کوونکے به نزدے خپلوانو د پاره د تحفو بندوبست هم کوي، په دې باره کښې رهنمائي اوفرمائے.

جواب: بعضې بےوسه خلق د حج د استطاعت لرلو باوجود حج له نه ځي د دې وجهې نه چې هغوئي سره خو د حج خرچه وي خو د رواج مطابق خپلوانو له د تحفو ورکولو پيسے ورسره نه وي. که د حج خرچه پينځه لاکه وي نو که د مبالغے په طور اووايم نو هغوئي ته پينځلس لکه

پکار وي ځکه چې اندرور له دا ورکول دي، اِیوور له هغه ورکول دي، لور له دا ورکول دي، پلار له دا ورکول دي. مور او خوابښې له هم فلانکۍ فلانکۍ تحفه ورکول دي دغه شان دومره ډیر رواجونه معاشرے پیدا کړي دي چې خلق د دې د ویرے حج له هم نه ځي که حج له ځي نو د رسم و رواج مطابق به رشته دارو له تحفے هم اخلي ګڼي هغوئي به خفه شي او خبرې به ورپورې کوي. ښکاره خبره ده چې څوک د تحفو مطالبه کوي هغه ښه خلق نه دي او د هغوئي د شر نه د بچ کیدلو د پاره به ئې ورکوې دا د هغوئي په حق کښې رشوت دے. حج له تلونکي نه د تحفو غوښتلو په ځائے په خوشحالۍ خوشحالۍ سره دا وئیل پکار دي چې تاسو حج له لاړ شئ نو مونږ له هیڅ هم مه راوړئ او که ضرور راوړئ نو آبِ زم زم په تحفه کښې راوړئ. که د آبِ زم زم بوتل هم رانَکړئ نو بیا هم زمونږ له طرفه څه خفګان نشته. که هر خپلوان ورته داسې اُووائي نو د تحفو د بوج نه خلاصیدلو په وجه به ورته حج له تلونکے د زړه نه دعا کوي.

یاد ساتئ! آبِ زم زم غوښتلو ته به هیڅ څوک هم رشوت اونه وائي ځکه چې په دې کښې څه د شر معامله نشته ځکه چې دا اوبه دي خو که د عجوه کجورو راوړو ورته څوک وائي نو هغه ګراني دي. حاجیان قیمتي مصلّے، قیمتي تسبیحات، سوټ پیسونه، عجوه کجورې، د چاکلیټ پیکټونه او پته نشته نور څه څه راوړي نو ښکاره خبره ده داسې څیزونه عام طور بنده په خوشحالۍ نه ورکوي بلکه "د مجبورۍ" نه ئې ورکوي. (ملفوظاتِ امیراہلِ سنت،قسط:54)

## عدت ختمیدلو باندې دعوت کول

هُم دغسې په عدت ختمیدلو باندې دعوتونه ضروري ګڼړل چې ماما کره یا فلانکي کره به اوَلنے دعوت وي داسې اندازونه خلقو د خپل ځان نه جوړ کړي دي. خو که دا دعوتونه ضروري نه ګڼړي او ماما، ورور، خور وغیره ئې د زړهٔ د خوشحالۍ نه د صلهٔ رحمۍ (یعني خپلوانو سره د ښه سلوک کولو) او د الله پاک د رضا په نیت دعوت اوکړي نو دا ښه دي. داسې

دعوت د عدت ختميدلو نه پس سمدستي ضروري نه دے بلکه د عدت نه پس چې کله اوغواړي کولے ئې شي. که ئې اونکړي بيا هم څه حرج نشته. د خپل ځان نه داسې رسمونه رواجونه جوړول او بيا هغه ضروري ګڼړل دا غلطه ده، تر څو پورې چې د شريعت حکم نه وي هيڅ هم ضرورري نه دے. (فتاویٰ رضويه ،11 /256 ماخوذاً،ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:27)

سوال: نن صبا د وادهٔ د پاره د جهيز ډير لوئے لوئے فرمائشونه کيږي او په دې کښې د څه قسمه پښيمانتيا هُم نه محسوسوي بلکه په دواړو لاسو جهيز اخلي او لوئے لوئے فرمائشونه کوي چې فلانکے څيز ښه لوئے راکړه يا د ښے کمپنۍ والا راکړه او که په دې کښې د نورو پيسو ضرورت وي نو مونږ به ئې درکړو وغيره، خو چې کله د حق مهر خبره راشي نو بيا هُم هغه خلق شريعت اُونيسي چې شريعت مو د لاس نه اونَوځي. په دې باره کښې رهنمائي اوفرمائے، ورسره دا هم ارشاد اوفرمائے چې په شريعت کښې مهر څومره پکار دے او نن صبا شرعي مهر څومره جوړيږي؟

جواب: د مهر کم نه کم مقدار دوه تولے اووه نيمې ماشے (30 ګرام 618 ملی ګرام) سپين زر يا د دې رقم دے. (بہارِ شریعت ، 2/ 64 ، حصہ : 7) د زيات څه حد نشته، څومره چې مقرروَل غواړي مقررولے ئې شي او کومه چې د لور د جهيز معامله ده نو مور پلار چې څه د جهيز په صورت کښې لور ته ورکوي دا ورکول سنّت دي، خاتونِ جنت حضرت بي بي فاطمه رَضِیَ اللہُ عَنْہَا ته هم جهيز ورکړے شوے وو او دا خبره ماشومانو ته هم معلومه ده. بعضې سماجي ادارو والا جهيز ته معاذالله لعنت وائي، دا بالکل غلطه ده . البته جهيز د پاره د هلک د کورنۍ والو مطالبه کول چې دا هم پکار دي هغه هم پکار دي دا ټول غلط دي. په داسې صورت کښې به د جينۍ مور و پلار د هغوئي د شر نه بچ کيدلو د پاره دا هر څه ورکوي او په هغوئي باندې به بوج هم پريوځي او د هغوئي زړونه به هم خفه کيږي لهٰذا داسې مطالبه هيڅ کله نه دي کول پکار. داسې غوښتل د خپل ذات د پاره غوښتل دي او دا زياته غلطه ده ځکه چې دا سوال کول دي.

ورکوونکي ئې څکه ورکوي چې که ورئې نَکړو نو دا خلق به بیا زمونږه لور ته پیغورونه ورکوي. چې ستا مور څه راکړي دي؟ د خاوند، خوابښې یا د هر چا د وجهې نه چې داسې ورکړے شي هغه به رشوت وي.

## دعوت کښې ون ډش (یعنې یو قسم روټئ) سِستم رائج کیدل مفید دي

(امیر اَهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه سره خواه کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائیل:) د بعضې قومونو په باره کښې معلومه شوې ده چې په هغوئي کښې یو قسم نه زیاتو خوراکونو باندې پابندي ده او دا هم طے شوي ده چې کوم خوراک ورکول دي او څنګه ورکول دي. دې نه دا معلومیږي چې که یو قوم یوه پابندي اولګوي او عمل پرې هم اوکړي نو ډیر مسائل حل کیدے شي خو خبره هم هغه ده چې کله د پابندئ لګولو والا په خپل سر راشي نو د هغوئي خپل کور والا مسائل پیدا کوي او هغه بے وسه په آزمائش کښې راشي. (امیر اهلِسنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه اوفرمائیل:) په اوکهائي میمنو کښې د وادهٔ په موقع باندې پوره پوره خاندان ته دعوت ورکولے کیږي او په خوراک کښې دال او وریژې وي. د هغوئي دال او وریژې واقعي ډیر خوندور وي او ارزان هم پریوځي، اوس پته نشته چې څه حال به وي څکه چې په قلاره قلاره خرابئ راروانې دي خلق پته نشته چې څه څه پکښې شامِلَوي او د هغوئي د وجهې نه غریب سړے راګیر شي، ګویا چې دا خیزونه ضروري شوي دي یعنې که په خوراک کښې سَل قِسمه ډِشونه نه وي نو بدنامي به ئې اُوشي او رد بد به هُم وئیلے کیږي. لهٰذا د دې نه بچ کیدلو د پاره به قرض اَخلي اګر که په سود ئې راواخلي خو راخلي به ئې او دا هر څه به کوي. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:67)

سوال: نن صبا ودونو کښې د واده هلک او جینئ باندې خلق ګلونه شیندي آیا دا اِسراف دے؟ (د نګرانِ شورٰی سوال)

جواب: ودونو کښې د وادهٔ هلک او جینئ باندې ګلونه شیندلو ته به اسراف نه وایو څکه چې دا عُرف دے. ګلونه په غاړه کښې اچولو ته ګل پوشي او شیندلو ته ګل پاشي وائي. ګل پاشي

علماء باندې اکثر کيږي او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د ميلاد په جلوس هم کيږي. د وادۀ هلک او جينئ باندې ګل پاشي کول شرعي طور ناجائزه نه دي او دې ته اسراف هم نه شي وئيلے ځکه چې ګل پاشئ سره خوشبو خوريږي او په ماحول کښې يو کشش او ښکلا پيدا کيږي او د دې څه نه څه مقصد وي. اوس که خلق دا ګنړي چې ګل پاشئ سره به ګلونه د ښپو لاندې راځي کيږي حالانکه دا ګلونه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوَلے نه پيدا شوي دي لهٰذا د ګلاب د ګل بےادبي کيږي نو دا يو عوامي تَصَوُّر دے. بعضې رواياتو کښې دي چې د ګلاب ګل د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوَلے نه پيدا شوے دے خو محدِّثينو په داسې رواياتو باندې ډيره سخته جرحَ او لوئے کلام کړے دے او د اکثرو محدّثينو په نزد دا روايات موضوع [يعني د ځان نه راجوړ کړے شوي] دي.

(کشف الخفاء، 1 / 229، تحت الحديث:797 ماخوذاً،المقاصد الحسنة،ص138،  تحت الحديث: 261 ماخوذاً)

بالفرض که دا اومنلے شي چې د ګل جوړيدلو سبب د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوله ده بيا هم کيدے شي چې دا د ګل پاشئ د ناجائزه کيدلو وجه جوړ نه شي. (ملفوظاتِ اميرِاہلِ سنت،قسط:33)

**سوال:** که د وادۀ وغيره د تقريب په موقع باندې ګلونه شيندلو د پاره ګيرچاپيره بے پرده جينکئ راجمع شوي وي نو بيا؟ (د نګران شورئ سوال)

**جواب:** يقيناً بےپردګي به منع کولے کيږي. وادۀ کښې د روټئ دعوت خو جائز دے خو که په دې کښې نامحرمه زنانه او نارينه يو ځائے خوراک کوي او په زوره زوره خنداګانې کوي نو دې ته څوک جائز وائي؟ وادۀ کښې ګلونه شيندل او د روټئ دعوت کول جائز دي البته که په دې کښې څه ناجائزه حرکت داخل شي نو هغې ته به ناجائزه وئيلے شي. (ملفوظاتِ اميرِاہلِ سنت،قسط:33)

## د جهيز مالک څوک؟

**سوال:** جهيز د چا مِلک وي د هلک که د جينئ ؟

**جواب:** جينئ ته چې د پلار د کوره کوم سامان د جهيز په طور ورکولے کيږي هغه د جينئ مِلکيت وي او د طلاق نه پس هغې ته د جهيز سامان بيرته د اخستلو پوره حق دے بلکه د

هغې د اجازت نه بغير بل چا ته د هغه سامان استعمالولو اجازت هُم نشته- او کوم چې د خاوند او د هغه د کور والؤ له طرفه ورکړې شوے سامان او کالے [سره او سپين زر] وغيره دي نو د هغې درې صورتونه دي:

(1) خاوند يا د هغه د کور خلقو صراحتاً جينئ د سامان او کالي [سرو او سپينو زرو] مالکه جوړه کړې وه او قبضه ئې هُم ورکړې وه- (2) خاوند يا د هغه د کور خلقو صراحتاً جينئ ته سامان او کالے [سره او سپين زر] عاريتاً يعني فقط استعمال د پاره ورکړي وو- (3) خاوند يا د هغه د کور خلقو جينئ ته د سامان او کالي [سره او سپين زر] ورکولو وخت کښې هيڅ هُم نه وو وئيلي-

**په اولني صورت** کښې ښځه د سامان او کالي [سره او سپين زر] د هِبَّه کولو په وجه د هغې مالکه جوړه شي او هغه د دې څيزونو مطالبه هُم کولے شي، په **دويئم صورت** کښې چا چې هغه څيزونه ورکړي وو هم هغه د هغې مالک دے او **دريئم صورت** کښې به د خاوند د خاندان رواج ته کتلے کيږي که هغوئي هغه ښځه د دې څيزونو مالکه جوړوي نو دا څيزونه د جينئ دي او که مالکه ئې نه جوړوي نو چا چې ورکړي دي د هغوئي دي- په دې باره کښې اعلىٰ حضرت اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ارشاد فرمائي: جهيز خو ټول د ښځې دے په هغې کښې د هيڅ چا حق نشته او د خاوند يا د هغه د کور د خلقو له طرفه چې څه ورکړے شوي وو که ښځه ئې د هغې مالکه کړې وه [يعني] که صراحتاً ئې ورته وئيلي وو چې مونږه ته د دې مالکه کړې يا د هغه ځائے د رسم و عُرف نه ثابته وي چې صرف د تمليک په طور ئې ورکوي نو هغه هم د ښځې مِلک دي ګني چا چې ورکړي وو د هغوئي مِلک دي-

(فتاوىٰ رضويه،12/ 259 260) (فيضانِ مدنی مذا کره، قسط 17)

سوال: که ښځه مړه شي نو آيا ټول جهيز خاوند اخستے شي که نه؟

جواب: چې ښځه مړه شي نو خاوند يا بل څوک د هغې د جهيز وغيره يواځې مالک نه شي

جوړېدے بلکه هغه ټول سامان کوم چې د زنانه ملکيت وو، د هغې د مرګ نه پس به د شرعي قانون مطابق په ورثاؤ کښې تقسيمېږي لکه څنګه چې امام اهل سنت، مولانا امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ فرمائي: جهيز زمونږ په ښارونو کښې په عُرفِ عام کښې خاص د ښځې مِلک وي چې په هغې کښې د خاوند څه حق نه وي، که طلاق اوشي نو ټول به [هغه ښځه] اخلي او که مره شوه نو ورثاؤ باندې به تقسيمېږي. (فتاویٰ رضويه، 203/12)(ملفوظاتِ اميرِاہلِ سنت،قسط:17)

سوال: بعضې ځايونو کښې دا رواج دے چې په جهيز کښې ورکړے شوے سامان باقاعده ښائسته تيار کړي او ميلمنو ته ئې ښائي، بعضې ځايونو کښې يو کس ولاړ وي او اعلان کوي چې دا د سرو زرو سيټ دومره تولے دے، داسې کول څنګه دي؟

جواب: د جهيز په نمائش کښې شرعاً څه ممانعت خو نه ښکاري البته په دې کښې اخلاقي او معاشرتي خرابيانې ضرور شته. په معاشره کښې د ښودنې شوق لرل دومره زيات شوي دي چې په جمات کښې د چندے ورکولو په وخت کښې هُم دا خواهش لري چې زما د نوم اخستلو سره زه په دعا کښې ياد کړے شم چې خلقو ته هم پته اولګي چې فلانکي جمات ته د چندے ورکولو احسان کړے دے. (ملفوظاتِ اميرِاہلِ سنت،قسط:12)

سوال: نن صبا بعضې ځايونو کښې د جهيز نمائش کوي، خلقو ته د جهيز ښودلو باقاعده اهتمام کيږي، آيا داسې کول به د يتيمو او غريبو جينکو زړهٔ آزارول خو نه وي؟

جواب: د جهيز نمائش ته د چا زړهٔ آزارول نه شي وئيلے کيدے. که داسې وي نو بيا خو به بلډنګ جوړول هم د زړهٔ آزارولو سبب وي ځکه چې په جونګړه کښې د اوسيدو والا زړهٔ به ماتيږي بلکه جونګړه جوړول به هم منع شي ځکه چې کوم خلق په فُټ پاترو پراتهٔ دي، او چا سره چې جونګړه هم نشته د هغوئي زړهٔ به ماتيږي، دغه شان خو به د دنيا نظام اودريږي، لهٰذا که چا د الله پاک د رضا د پاره او د [لُور وغيره] زړهٔ ساتلو د پاره او نورو ښو ښو نيتونو سره ښه جهيز ورکړو، چې واه واه او حُبِّ جاه [يعني خپل صفت اورېدل ئې] مقصود نه وي او يو څو

کسانو ته ئې جهيز ښکاره هم کړو نو په دې باندې به د چا د زړۀ آزاريدلو حکم نه لګي البته د دې نه هم ځان بچ ساتل بهتر دي. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:31)

سوال: خور له په جهيز کښې کوم کتاب ورکول پکار دي ؟

جواب: سُبْحٰنَ الله! خور له په جهيز کښې د تفسير "صِراطُ الْجِنان" 10 جلدونه ورکړئ د قرآن تفسير چې په کوم کور کښې وي نو هلته به برکتونه راورَيږي په دې کښې د اعلٰی حضرت، امام اهلِسنت مولانا امام شاه احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ترجمۀ قرآن کنزالايمان هم ده. که خرچه کمه کول غواړئ نو بيا بهارِشريعت ورکړئ يا د قرآن ترجمه کنزالايمان مع خزائن العرفان يو جلد کښې دے دا ورکړئ. فيضانِ سُنَّت جلد اول او د دې نور ابواب مثلاً د غيبت تباهيانې، د نيکۍ دعوت دا پوره سيټ هم ورکولے شئ. د څومره کتابونو چې ما عرض اوکړو دا ټول هم په جهيز کښې ورکولے شئ. خلق لکونه کروړونه په ودونو خرچ کوي او د سرو زرو ډيري ورکوي، که د نيکو د ډيري جوړيدلو د اسبابو د پاره هم يو څو زره روپۍ خرچ کړے شي نو مدينه مدينه. په کور کښې چې ديني کتابونه وي نو کله خو به ئې څوک راواخلي اَو وبه ئې ګوري چې دا څه دي؟ راتلونکي نَسلونه به ئې اوګوري چې دا څه دي؟ د کور نور کسان به ئې اوګوري چې دا څه دي؟ لهٰذا په جهيز کښې ديني کتابونه ورکول پکار دي.(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:30)

سوال: وادۀ کښې ډير خلق قيمتي او ګراني ګلدستے په تحفه کښې ورکوي،آيا دا صحيح دي؟

(شعبه ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت)

جواب: د وادۀ په موقع باندې چې دا بعضې اخوا ديخوا قسما قسم تحفے ورکولے کيږي دا د هيڅ کار نه وي. مثلاً عام طور په ودونو کښې شوپيس ورکولے کيږي يا داسې قيمتي ګلدستے ورکولے کيږي چې په هغې کښې عام طور خوشبو نه وي داسې ګلدستے ورکول جائز دي، هم دغه شان داسې شوپيس ورکول هم جائز دي چې د ساه لرونکي ګوډاګي [بُتان] پکښې نه وي خو د داسې څيز فائدے کمې وي. مثال په ګلدسته باندې به بنده څه اوکړي؟ مثلاً حاجي

عبيد رضا له چا قيمتي ګلدسته ورکړه، نو حاجي عبيد رضا په دې باندې څه کوي؟ جزاک الله به ورته اووائي اوکيږدي به ئې او بيا به ئې چاله ورکړي. که څوک چا له څه ورکول غواړي نو د دې په ځائے دِ ديني کتاب ورکړي، که څوک پټکے په سر کوي هغه له دِ سوتي پيس او پټکے ورکړي، د سنت مطابق به ئې په سر کوي، او لُمونځونه به پکښې کوي. د دعوت اسلامي په مَکْتَبَةُالْمَدِينه کښې زرګاؤ اسلامي کتابونه دي، د دې کتابونو نه دِ يو کتاب د وس مطابق واخلي او تحفه کښې دِ ئې ورکړي که د وادهٔ د تحفے په طور يو کتاب ورکوئ نو په هغې باندې اوليکئ چې د فلانکي د وادهٔ په موقع باندې تحفه، يا شادي مبارک. که د وادهٔ مبارکباد وغيره پرې اوليکلے شي او ورکړے شي نو اميد دے چې هغه به ئې د يادګار په طور سنبال کړي او لوَلي به ئې. که د وادهٔ ځلمَے د مخکښې نه ديني ماحول کښې وي نو بيا دِ هم کتاب په تحفه کښې ورکړي چې په کور کښې خو به ئې يو څوک اولولي، د مسلمانانو کور ته چې ديني کتاب لاړ شي نو د هيڅ قسمه نقصان به نه ورکوي بلکه ان شاءالله الکريم څه نه څه ګټه به ورکوي.

(ملفوظاتِ اميرِاہلِ سنت،قسط:30)

## په کويژدن او واده کښې د غيبت 17 مثالونه[1]

چې کله خپلوي کوي نو د دواړو طرف والا ډير خوارهٔ خوارهٔ کيږي او خپلوي اوکړي، خو په دې دوران کښې هُم او وروستو خو اکثر د غيبتونو سلسله جاري اوسي. د دې وولَس مثالونه اوګورئ: ❖ د چا هيڅ لحاظ نه کوي ❖ پکار وه چې دعوت راکولو د پاره کور ته راغلي وے ❖ صرف د بل په خُله ئې دعوت راکړو ❖ په ټيلي فون ئې ګزاره اوکړه ❖ خوابنې خو څوک د دعوت راکولو د پاره هُم راونه ليږلو ❖ مونږ خو هغوئي ته د ډيرو کسانو راوستلو دعوت ورکړے وو خو هغوئي مونږ ته د ډيرو کمو کسانو دعوت راکړے دے ❖ زه چې دعوت له ورغلم نو سخر راته هيڅ لفټ رانکړو ❖ ماته ئې دا هم اونه وئيل چې ”نوره اوخوره“ ❖

[1] ۰۰۰دا مضمون اميرِ اهلِ سنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د کتاب ”غيبت کی تباه کارياں“ نه اخستے شوے دے.

ډيرې ورځې اوشوې چې د جينئ والؤ له طرفه څه دعوت رانَغلو دا څه طريقه ده! ❖ ډير شُومان دي ❖ صرف يوه پتيله طعام ئې راوليږو، ديګ راليږل پکار وو ❖ د خوابنې زړه ډير وړوکے دے ❖ د آمونو ئې صرف يوه پيټئ راوليږله او ❖ آمونه هُم بس دغسې وو ❖ مشر وررور له ئې ګړئ ❖ مشرې خور له ئې سوټ ❖ او والده له ئې [په تُحفه کښې] څادر ورکړو خو هر څيز ئې بيکاره ورکړو وغيره وغيره. په دې کښې بعضې خو هغه غيبتونه دي چې که هغې ته ”د خپل قصور منلو په ځائے نوره سرکشي کول“ اووئيلے شي نو هم غلطه نه ده. ځکه چې اول خو چې د کومو څيزونو ګيلے قيصے کوي په هغې کښې اکثرو کښې د رشوت آفت هم شامل دے. مثلاً دا مطالبات کول چې د هلک د وررور او مور و پلار د پاره به دا دا څيزونه اخلئ نو مونږ به هله خپلوي کوو نو دا ”رشوت“ شو. که د جينئ کورنئ تحفے نه ورکوي نو د هلک کورنئ پيغوروونه ورکوي لِهذا خپله لور د سخرګنئ د شر نه بچ کولو د پاره د امونو پيټئ او د طعام پتيلے وغيره پيش کولے کيږي. اعلٰي حضرت امام اهلِسنت، مولانا امام شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: رشوت هغه دے کوم چې په بعضې قومونو کښې رائج دے چې د خپلې لور يا خور خپلوي تر هغې پورې نه کوي تر څو چې د خاطِب (يعني د نکاح پيغام ورکولو والا) نه ځان د پاره څه څيز حاصل نه کړي، دغه شان رشوت هغه دے چې يو کس په خپله سرپرستئ کښې يوه خپلوي خو اوکړي خو ځان د پاره څه اخستلو نه بغير هغه جينئ خاوند ته نه حواله کوي.“ (فتاوٰی رضويه، 257/12) ياد ساتئ! رشوت حرام دے او جهنم ته بوتلونکے کار دے چنانچه حديثِ پاک کښې دي : اَلرَّاشِیْ وَالْمُرْتَشِیْ فِی النَّارِ. يعني رشوت ورکولو والا او رشوت اخستلو والا دواړه دوزخيان دي.

(معجم ا وسط، 550/1، حديث:2026)

## رشوت نه د توبه کولو طريقه

اے عاشقان رسول! چا چې رشوتونه اغستي وي، او اوس شرمنده وي نو صرف د خُلې توبه

کافي نه ده، توبه کولو سره سره به هغه ټول رشوتونه هغوئي ته واپس کول وي د چا چا نه ئې چې اغستي دي، که هغه نه وي نو د هغه وارثانو ته به ئې ورکوي، که د هغوئي هُم دَرَک معلوم نه شي نو فقیر له دِ ئې ورکړي. د رشوت په باره کښې نور معلومات حاصلولو د پاره فیضانِ سُنَّت جِلد اَوَّل صفحه 540 نه تر 554 پورې مطالعه کړئ.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نيك او لمونځ ګزاره جوړيدو د پاره

هر زيارت د مابنام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائے كښې كيدونكي د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو ډكه هفته واره اجتماع كښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښه ښه نِيَّتونو سره ټوله شپه تيروئ ❁ د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره **مَدَنِي قافِلو** كښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِكرِ مَدِينه" په ذريعه د **مَدَنِي اِنعاماتو** رِساله ډكوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يكم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمَّه دار ته د جمع كولو معمول جوړ كړئ.

زما مَدَنِي مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح كوشش كول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَنِي انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د كوشش كولو د پار "مَدَنِي قَافِلو" كښې سفر كول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (كراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com